مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباری جهانی

۲۰۲۰/۰۳/۰۴

# انتظار به یو تر کومه؟

خدایه وینمه قومونه چې اسمان ته پورته کېږي
همدا یو کور دی پر مخکه چې سور اور پکښې بلېږي
نه یې شپې سولې روښانې نه یې ورځې سوې کرارې
هم تیاره له ساندو ډکه هم رڼا وهې کوکارې
یا یې خپلې سترګې سرې وې یا د ورور پر کور ناورین دی
سبا نه ور معلومېږي له پرونه یې زړه شین دی
یا زړې کیسې ورپاته یا د جنګ سندرې وایې
لاس یې رنګ توره یې سره ده د تربور په وینو پایې
چې له خپله لاسه خوار دی همدا یو قام د پښتون دی
د ازل کاتب لیکلی په نصیب ورته بېلتون دی
د غیرت یې ساری نسته لکه زوړ زمری غړومبېږي
ښکار یې بل ورڅخه وړی په نس وږی دی کړېږي
نه له سیاله سره سم سو نه یې روغ سول پرهارونه
نه پر خپلو پښو روان سو نه یې ووهل مزلونه
بس ښارونه دي چې سوځي او قلاوې دي نړېږي
یو او بل ته سره ګوري درک نه ور معلومېږي
حماسې دي چې یې لیکو د ملالې د لنډیو
افسانې دي چې یې اورو د زمریو پخوانیو
نه دښمن وینو په سترګو نه په دوست مو څوک خبر دی
بس سرونه دي چې غورځي لکه بنګ چې مو په سر دی
غړوو په سر کې سترګې مګر نه وینو ړانده یو
پښې لرو غوړونه هم سته خو هم شل یو هم کاڼه یو
همدا قوم د خوشحال خان دی یو پر بل کوي غورځی
چې یو سر کړي پکښې پورته بل یې ووهي مغزی
راسی نن به سره خپل سو روح به ښاد د خوشحال خان کړو
هغه رنګه قلا جوړه هغه وران کلی ودان کړو
زه به تا پر اوږو سپور کړم ته به ماته ځارې لاره
تر منزله به رسیږو په آرامه په کراره
زه به ړوند یم ته به شل یې تر مقصده به رسیږو
او کنه په دښت کې پاته د لېوانو شومه کیږو
پلار ویله چې نه خیژي له یوه لاسه ټکونه
نه به یو مېږه کړي پورته پر پیچومو کاروانونه
دا قلاوې نړېدلې په یوه لاس نه جوړیږي
د ښار اورته سیند په کار دی دا په لپو نه سړیږي

د ۲۰۲۰ کال د فبروري اته ویشتمه ویرجینیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ